





Ketabton.com

This book was gifted in honour
Jahanzeb on the auspicious c
Festival as special contributior
12 December 1954. **Pukhto.N**
this book to its readers t

(c) ketabton.com: The Digital Library

L.No.15
15/

# جہان زیبی

## مشاعرہ

۵۴ ۱۹ء

۱۲ / دسمبر

باہ ________________ تمام

## سیف الملوک صدیقی سوات

فیضان سوات بقلم خود

تعداد ۵۰۰ عبدالحمد محمد سعید منگورہ سوات

G.H.S. S. Kabal

(c) ketabton.com: The Digital Library

No: 15
16.6.57

۷۸۶

# جہان زیبی

# مُشاعِرہ

زیرسرپرستی سیف الملوک صاحب

صدیقی ریاست سوات

لیکونکے او مرتب کونکے فیضانِ سوات

Govt. Higher Secondary School
Acc No 15
Date
KADAL Swat

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازی ملت حکمران سوات



# تمهیدِ کتاب

چونکه سنکال دَ حضورِ اعلیحضرت همایونی
جناب محمد عبدالحق جهان زیب خان
صاحب حکمرانِ ریاستِ سوات دام اقباله، دَ
جشنِ سالګیرۍ سنه ۱۹۵۲ع دَ ۱۲ د سمبر
پحقله جوړېږي دَ خوګ وطن ښاغلی محترم جناب
سیف الملوک صاحب صدیقي یو خلور طرحې دَ خپل فکر
دَ نتا ئجو نه منتخب کړې په هغوی باندې ادیبانو
او شاعرانو صاحبانو خپل خپل جذبات ښکاره کړه
لهذا دا موږ دَ دې مجموعې په طور په خدمت دَ حلقهٔ احباب
او دَ ناظرینو دَ جشن کښې پیش کوو:-

(ګر قبول افتد زهی عز و شرف)

فیضان عفی عنه
(سید و شریف)

# دَ نظمُونو فهرسُت


| نمبر نظم | نوم دَ شاعر او دَ هغه نظم | صفحه | نمبر نظم | نوم دَ شاعر او دَ هغه نظم | صفحه |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | تمهید کتاب | ۲ | ۱۱ | سُلطان محمد صاحب | ۶۶ |
| ۲ | سیف الملوک صاحب صادق | ۴ | ۱۲ | شیر صاحب | ۷۸ |
| ۳ | فضل الرحمان صاحب فیضان | ۱۳ | ۱۳ | مهر النساء صاحبه بانو | ۸۰ |
| ۴ | حبیب الرحمان صاحب حبیب | ۲۳ | ۱۴ | پیر محمد خان صاحب | ۸۳ |
| ۵ | امیر حمید صاحب | ۳۳ | ۱۵ | محمد نوشیروان صاحب | ۸۹ |
| ۶ | ایاز صاحب. کراچی | ۴۴ | ۱۶ | شیر افضل صاحب | ۹۶ |
| ۷ | عبد المالک صاحب فکری | ۴۷ | ۱۷ | خانی قصاب صاحب | ۱۰۰ |
| ۸ | شیر محمد خان صاحب مینوش | ۵۵ | ۱۸ | دلاور خان صاحب | ۱۰۶ |
| ۹ | احمد جان صاحب نشتر | ۵۸ | ۱۹ | دَ ناظر سویر خدمت کښ | ۱۱۸ |
| ۱۰ | مولوی ضیاء الحق صاحب | ۶۳ | ۲۰ | دَ عقیدت گلونه | ۱۲۰ |

# جناب سیف الملوک صاحب صدیقی ادیب سوات

## طرح

یو زه یوائے نه یم چه په دے یم خوشحاله

راځه تماشه اوکړه هر طرف ته ځما لاله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله

راځه تماشه اوکړه د اقبال ختلے نمر دے
مولی په لوئ احسان راکړے دا در یم اختر دے
خوشحاله قام په دے چه جهانزیب د دوئ رهبر دے
بل گوره ځما روره چه نن باره د سمبر دے
هم رو به ترقی دی دا جشن کال تر کاله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله



اوس جوړ د ترقی څونږ د پاره دی اسباب
ختلے په عروج د سوات تاریخ دے په هر باب
مالیار چه د ګلزار لړ کړه زاغ زغن غراب
د سیال سره چه سیال کړو مونږ والی عالیجناب
دا ټول د ده همت دے ځان خبر کړه دا حواله
یو زه نه یم چه په دے یمه خوشحاله

صحت درله درکړی پاک الله غنی غفور دے
زاړه ځوانان، واړه هر یو په دے ساعت مسرور دے
فرمان چه څه کوے په صدق مونږ ته منظور دے
د قوم د ترقی خدمت د نور علیٰ نور دے
شهرئ د دوړئ شو له بهتر د زرین شاله
یو زه یوازے نه یم چه په دے یم خوشحاله

وطن د باغ ارم کړه څوک ناشکره د احسان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناشکره به هغه وی چه په مثل د شیطان دے
اصیل به خوشحالیږی په مونږ فضل د سبحان دے

حصه د منافق دلته هم هلته کښې نیران دے
محروم به ژوند کښې نه کړے صدیقي د خپل وصاله

یو زه یوازے نه یم چه په دے یمه خوشحاله

---

طرح

## طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

نن باره د سمبر دے پښتنګان را غله په شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

نن باره د سمبر دے خوشحالي ده په هر لور
هر خوا ته نظر اوکړه چراغان دی کور په کور

غنچے شنے د خندا نه پړے بلبلے کوی شور
دعا کوی سلطان ته چه یے ورک کړه ظلم زور



هر یو په خپل پوره دے نه یے شته د بل نه طمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

خندا ده خوشحالي ده په چا نشته درد و غم
دعا کوی الله ته د خپل والئ اعظم

ادیب شاعر چه وباندی کړه قرطاس ته خپل قلم
اوصاف د جهان زیب لا پوره نه وو ذره شه خم

جمال ستا د کمال چه په نظر شوه د چا لمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

رښتیا ده چه عادل سلطان د پاک الله رحمت دے
دا هم د خدائ د لوری په مونږ فضل عنایت دے

خندیګو، خوشحالیګو په هر ځای ځمونږ وقعت دے
غمخوار د هر یو کار بچیله غازی ملت دے

په تا چه څوک خفه وی ما رب دی زر ترو زره کړی قمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه شکر نن اوُ نه کړی دا بد بخته بیں کړ دار دے

خلاف دَ اُولی الامر په تحقیق کښی ګنهګار دے

تعمیر انصاف دَ سوات په مثل بل په کوم دِیار دے

صحت دولت دَ علم کړه حاصل که ستا بکار دے

حق وایه صدیقی حق ته دِ ټهیک وینسه سمع

طوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع

## طرح

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

داسے تجربه مِ په تحقیق کښی دَ احساسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

هر سړے دِ فکر ځان ته نن او دَ پرون اُو کړی

فرق په رشتیا دِ دَ وصال او دَ بیلتون اُو کړی

بل دَ ژړا په سترګو دِ کتنه دَ ګردون اُو کړی

شکر دَ الله دِ په دے عهد دَ مامون اُو کړی



ستره چه ماضی ځونږ دَ حال دَ انعکاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

نشته یو مثال چه به وِی دا دور و دوران دَ چا

نه به یو منصف، عادل، بیدار وِی حکمران دَ چا

نه به زیب زینت لکه ځونږ وی په جهان دَ چا

داسے رقیبان به په تعجب نه وِی حیران دَ چا

لویه تجربه دِ دَ لقمان او بلینا سه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

تا دَ ملک او قوم چه په کوم شان سره تعمیر کړے

بل دِ دَ صحت تعلیم عجب غوندِ تدبیر کړے

ښکلے کور په کور رچه انتظام دِ دَ تنویر کړے

هر ځائے کښی انصاف دِ دَ غریب او دَ امیر کړے

ځکه خَیرُ النّاسِ وَمَن یَنفَعُ النّاسه ده

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیرې زمانې ته چه نن فکر څوک د سوات کوي

خدائے گو که انسان وي دے به فخر ستا په ذات کوي

یا وه قتل خون یا مطالعه د کائنات کوي

ځکه هر یو کس په دے خلوص صدق صفات کوي

هر ځائے اورید لے **صدیقي** د حق شناسه ده

هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

## طرح

**دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دیقین شي**

محفوظ خزانه وي چه پلاس کښې د امین شي

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دیقین شي

په صدق چه خدمت کوي مالیار د گلستان

بلبل ورله راغواړي بل ترې لرې کړي زاغان

زاغ و زغن چه نه وي هر بلبل شي ثناخوان

هم دا د وطن حال وي چه عادل وي حکمران



گویا په دغه قوم فضل د رب العلمین شي

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دیقین شي

مشهور په تواریخو کښې دے عدل لې جهانگیر

ترلے د انصاف د بارہ ده به وه زنځیر

مظلوم به هلته لاړ شه چه به وه د ځان په ویر

وټیل به ئے فریادي ترا ته اودې کړه تقریر

سلیم په دغه وصف یادیدلے په تحسین شي

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دیقین شي

یو څو خبرے واوره ته د غازي ملت

رښتینے نگهبان دے د خپل ملک او رعیت

پخپله د سپاهي پشان ولاړ وي په خدمت

فریاد د فریادي اوري هر ځائے په هر ساعت

اوصاف ئے نه ختمیږي که هر وصف په تضمین شي

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دیقین شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ده په برکت باندې وطن ځمونږ سمبال دے
هر يو ته په خندا دے هر يو کس ته په نيک خيال دے
د ده دے نظم نسق ته هر يو سړے ليوال دے
تميز د صديقي په دے زمان کښې بې مثال دے
ممد او معاون دې د ده رب په هر يو حين شي
دروغ نه دي رښتيا دي په رښتيا که دې يقين شي

---

# سيف الملوک صاحب

## صديقي۔ سيدو شريف



# فضل الرحمن فيضان شاعر و خوشنويس

## رياست سوات

---

طرح

يو زه يوازې نه يمه په دے باندې خوشحاله

---

راځه ګله راځه چه دې خبر کړم د حاله
دا نه چه بيا ځما نه ته ګلې کوې صباله

نن بارۀ[12] د سپر سترګے وهي ځمونږ پلور
يو ناوے د مکيز دا خله شوه ځمونږ په کور
ګلونه د عشرت د زړه په باغ کښې شو سمسور
د سوات په ګلستان کښې بلبلان ګډ شو په شور

خوشحاله خوشحالي ده نن د هر سړي د خياله
يو زه يواځے نه يمه په دے باندې خوشحاله

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جوش د محبت کښې د سیماب غوندې رقّاص شوم
د عام نه جدا شومه د خاص سره خاص شوم
میدان د تصوّر ته ورد ننه په اخلاص شوم
د فکر په دریاب کښې ورپکې لکه غوّاص شوم
خارج مې کړه لعلونه چه قبول دې کړله کماله
د شاه د تاجپوشۍ په تاج جوړ مې کړه آلاله

نن جشن د حضور دے که د نوی اختر هلال
دا بدر د کمال دے که یو ستورے د اقبال
یا بشکلے پلوشه ده سرو هې پوره په کال
یا داچه په هجران پسے مدام راځي وصال
نن جونه د جشن تماشے کړې د دیواله
نوې دنګې غړانګے سره جوړې کړې د سوشاله
دا زه یوازے نه یم په دے باندې خوشحاله



د خیال په آئینه کښې در ته ښایم یو تصویر
په هوش شه هسے نه چه شې د ګناه په هوا ګیر
د سحر د جادو نه در ته ډک کوم تقریر
اثر به هله اوشي د ضمیر نه په ضمیر
**فیضان** خپل تخیّل کړو د شاه مینې ته لیواله
الفاظو ئې په زخم د زړه کینښوده دسماله

## طرح

**طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع**

یو ورځ زه د سیل د پاره تلے وم صحرا ته
ګلشن د خوشحالۍ کښې ګرزیدم مزه هر خوا ته
یو زړې عجیبه بهار په غوګ کښې اوږدے ماته
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سوات په ګلستان کښې نن چغېږي بلبلان
محفل ته د ادب واړه غونډېږي اديبان
په يادو د سلطان کښې مشغولېږي شاعران
د جشن په جوبن کښې بيا او بيا کېناسته جمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

د ۱۲ بارهٔ دسمبر تاريخ به ياد وي په هر حال
چه داسے سالګره يکښې کېدے شي په هر کال
خوشحاله خوشحالي ده نن د هر سړي په خيال
د جشن په دے شپه کښې تر صبا کېناسته جمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

د جشن فريدون او د نوروز نه د جمشيد
څومره جشن زيات دے دا څومره دے يو عيد
آزاده آزادي ده يکښې نشته د غم قيد

PUKHTO.NET



يو ښکلي محفل کښې شاه ګل کېناسته جمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

يو سيل دے تماشه ده په هر ځاى په هر مکان
تاريخ تازه کول دي نن د سوات د حکمران
داځکه نن راغونډ شولي واړه زاړه ځوانان
د دے خوشحالۍ نه په رشتيا کېناسته جمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

د انجاس نه د څوا پورے اوشو داسے ياد
په ۱۲ بارهٔ دسمبر کښې حاصلېږي څومره مراد
فيضانه حکمران دِ څومره تل وي زنده باد
نن عام و خاص د بارهٔ دُعا کېناسته جمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کېناسته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح

## هر سړی موند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

ډیر ډیر فوائد د رسولی دی جهان وته
لاس د دلاسه د دے پسر هر یو انسان وته
نشته دے سلطانه د عیان نه څه بیان وته
هره نتیجه د د حدیث د خیر الناس ده
هر سړی موند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

خاص د هر یو رنځ دارو یې د اسے مسیحائی ته
چو ته مره وړنه یې خوږ چانه بخلائی ته
هم څو نږ د غم د شپے د پاره یو صبائی ته
هره فائده ستا څو نږ د پاره بې قیاسه ده
هر سړی موند لے لویه برخه ستا د لاسه ده



ستا په لوی همت سره د سوات او وطن آباد شه بنه
علم د ازده کړه ورته جهل نه آزاد شه بنه
هم په جمیل وصف سره هر وطن کښې یاد شه بنه
دا د سوات ټولو ته خلکه اوس خلاصه د افلاسه ده
هر سړی موند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

تا د قوم د پاره هم پوره کړه ضرورت واړه
تا د ترقۍ په عروج چوت کړه ریاست واړه
خلکه د لتا نه ټول خوشحاله رعیت واړه
ستا مهربانی د نوے بلے نه لپاسه ده
هر سړی موند لے لویه برخه ستا د لاسه ده

جشن د دے باره دسمبر د مبارک وی ستا
ډیره خوشحالی د اے سلطانه یو په لک وی ستا
ستوری د اقبال د تل روښانه په فلک وی ستا

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دعا ځمونږ ده ستا په حق کښې بې وسواسه
هر سړي موندلې لویه برخه ستا د لاسه ده

تر دې زندګانه بادې حکومت دې ستا مدام وي تل
سورې د رحمت دې ستا ځمونږ علی الدوام وي تل
هم دې د **فیضان** حقیر پېتا دعا سلام وي تل

دا سبا دې شروع ځمونږ د انیس سو انچاسه ده
هر سړي موندلې لویه برخه ستا د لاسه ده

## طرح

دروغ نه دي رښتیا دي په رښتیا که دیقین شي

تور دې که سره شنه دي هم که زیړه دي او که سپین شي
دا که په یو رنګ شي نو بیا جوړ به تر آئین شي



را شه د دوه رنګي پرېږده په یو رنګ شه رنګ شه
ته که یې عاشق نو د آشنا د در ملنګ شه
زړه شه د باطل د پاره غشی د خدنګ شه
دوست به دې خوشحاله شي دښمن به دې غمګین شي
داسې کارنامې به دې بیا لوړې تر عِلّیین شي

ځان د اتحاد په رسۍ او تړه محکم بته
زهر د تفریق د مېنځ نه واړه کړه مدغم ته
زړه دې په چاره د شاه د مینې کړه قلم ته
ټوک چه داسې کار کړې په رښتیا سره نازبین شي
دا خبره دروغ نه دي په رښتیا که دیقین شي

را شه دروازه د یقین او وهه په زوره
ځیل یقین دې خاص کړه بیا هله لمتوه نوره
ولې ته دیده او دانسته ګوځې شمکوره

Govt. High Secondary School Acc No— Date KABAL Swat
PUKHTO.NET

څوک چه د اخلاص په جامه پټ شي نو آمين شي

تيږ نه وي بيا خلقو ته ډير څوک لګ کمين شي

ته په صداقت د جهانزيب د در غلام شه

ښکار لکه مارغه د محبت د ده په دام شه

ځو به ئې بدنام ته د وفا په نوم نيکنام شه

مخ په صدق وبخه چه روښانه د جبين شي

هله به بيا روښه درته د يار د مخ آئين شي

خيال کومه مجبوره زه په دے معما کا نو

داستے قصے نه دي که واوري هو ښيارا نو

دا يو معمه د مطلب د که ده يارانو

وائي **فيضان** تاسو ته که پوهه پرے دوربين شي

کوزه بايه بره، بره کوزه د خودبين شي

فيضان سوات عفي عنه، سيدو شريف



## ښاغلے حبيب الرحمن صاحب حبيب اديب کالوج سوات

### طرح

**يو زه يو از ے نه يم په دے باندِ خوشحاله**

نن بارِه د سمبر دے هر سړے کړي ځي له خياله

يو زه يو از ے نه يم په دے باندِ خوشحاله

نن بيا هغه تاريخ دے هغه مياشت د دسمبر

ختلے چه پرے تخت وه والي صاحب بهادر

هر چا ته هر سړے راځي خوشحاله په نظر

دا زيا ته خوشحالي ده پرے رسيږي د بل کاله

يو زه يو از ے نه يم په دے باندِ خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دے جشنِ تاجپوشئ له د والی صاحب والی
یو زه یواځې نه یم چه پړې کړمه خوشحالی

د سیالانو چه سیالان نه دی هغه کوی سیالی
معموره هم مسروره به ډیر ورځ وینم بد حاله
یو زه یوازې نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

داورځ د خوشحالی ده نن د هر یو مسلمان
هر ځائے کښې خوشحالی ده په هیچا نشته خفګان

تاریخ د تاجپوشئ چه دے ځمونږ د حکمران
وه چه زبون حاله هغه نه دے زبون حاله
یو زه یوازې نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

داورځ د خوشحالئ د اهلِ سواتو د اقبال
د بارهٔ ۱۲ دسمبر ده مبارک د دے کال

ده د اسے خوشحالی لکه د عیده په هلال



د بارهٔ دسمبر یکښې تاریخ وینم نیکفاله
یو زه یوازې نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

آمان د انقلاب نه ځمونږ دِ حکمران وی
دنیا کښې ترڅو پورے چه دا زمکه دا آسمان وی

هم داسے دِ په قام بانډِ مشفق ځمونږ سلطان وی
دعا د حبیب دا ده اے خالقه لایزاله
یو زه یوازې نه یمه په دے بانډِ خوشحاله

---

## طرح

## طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع
نن بارهٔ دسمبر دے شاه ګدا کیناسته جمع

د بارهٔ دسمبر یولوی اختر دے د اولس

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر یو سړی ته ګورم چه کوی خندا هوس
د دې یې خوشحالۍ نه په هر ځای کښې د مجلس
حسد او کینه لاړه نن اعدا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

بې حده خوشحالي ده ریاست کښې کور په کور
چه ورځ د تاجپوشۍ ده د والي صاحب غمخور
په زیاته خوشحالۍ له کمه باخیده رنځور
آغوستې ښې جامې خلقو زیبا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

ټول خلق راغونډ د خوشحالۍ شو په میدان
هر یو کړي خوشحالي په تاجپوشۍ د حکمران
په هر کلي د سوات کښې په هر ځای په هر مکان
محفل د خوشحالۍ کښې یار آشنا کیناسته جمع



امیر دې که فقیر دې کړې هر یو انتظام
عیشونه دي جلسې دي، دعاګانې کوي قام
ټوک چه بې آرام وه هغه وینم په آرام
په خوان د سلطان ادنیٰ اعلیٰ کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

ښکاریږي هر طرف ته دروازې ښې مزه دارې
حیران شي به د ورځ چه مسافر درومي پلارې
نو روانې مسافر خنګه اختر شه په تلوارې
حبیب وائي کاروان ترې په سودا کیناسته جمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

## طرح

هر سړی موندلې لویه برخه ستا د لاسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضوره ما ایسے بادشاهي ستا سو قیاسه ده
هر سړي موندلے لويه برخه ستا د لاسه ده
موندلے لويه برخه هر يو كس لتا سلطانه
احسان مالي جاني كوے د هره مسلمانه
بيا خاصكر په عاجزو بے حده مهربانه
هم ډير د احسانونه هم جزا دِ سم لاسه ده
هر سړي موندلے لويه برخه ستا د لاسه ده
په مثل د حاتم دِ حكمرانه سخاوت دے
لايق د ډير تحسين د آفرين دِ حكومت دے
د عدل د انصاف دِ په كلي جهان شهرت دے
ستا فيصله هره د ميزان او د قسطاس ده
هر سړي موندلے لويه برخه ستا د لاسه ده
هره فيصله كړے په انصاف عدل پسند يے



په دے نوم د انصاف په تمامي جهان سر كندے
موصوف په دے اوصافو په چترال په ډير دربند يے
تعريف دِ دنيا ټوله كړي د لاندي كم لياسه ده
هر سړي موندلے لويه برخه ستا د لاسه ده
حاكم دِ وي حاكم چه ور پكښ عدل انصاف وي
صدق چه له بده و د رشوت نه ځني صاف وي
ملزم چه جرم اوكړي په اقرار بانډي معاف وي
له دے نه چه خلاف شي بيا توبه دِ دخناسه ده
هر سړي موندلے لويه برخه ستا د لاسه ده
خاوند دِ خه نصيب كړه زياته دے نه بسه اقبال
چه كړي مظلومان دِ په انصاف عدل خوشحال
حضور دِ له گردش د انقلابه اوسه آل
دعاء د مظلومانو تيره سخته د الماسه ده

ن بارہ د سمبر دِ تا چپو شِی دہ حکمرانہ
دا نیک فال تاریخ دے هر یو کس و ینم شادانہ
دا ورځ له اخترہ کمہ نہ دہ مهربانہ
هرہ خوشحالی د کال د هر یو د پاسہ دہ
هر سړی موندلے لویہ برخہ ستا د لاسہ دہ

دا حبیب له صدقہ خیل مالک تہ بہ دے سوال کښی دے
تل د تضاعف د سالګیرۍ دِ کال پہ کال کښی دے
بل د نیکنامۍ غرض دے هر زمان پہ خیال کښی دے
دالار د نجات هر مسلمان له بے وسواسہ دہ
هر سړی موندلے لویہ برخہ ستا د لاسہ دہ

---

طرح

دروغ نہ دی رښتیا دی پہ رښتیا کہ دِ یقین شِی



سوات تہ چہ خوک راشی پہ رحمت د رب متین شِی
دروغ نہ دی رښتیا دی پہ رښتیا کہ دِ یقین شِی
لا رہ چہ یو ظالم او بل مظلوم شی عدالت تہ
دیر پہ خوشحالۍ مظلوم راضی مظلوم غمګین شِی
زغلی عدالت تہ مظلومان له هر طرف نہ
سوال د دوی قبلیږی دیر خفہ ظالم بیدین شِی
پہ سوات کښی مساوات د معتبر او د غریب دے
حق رسی دے کیږی کہ خوک خان او یا مسکین شِی
زیات له مورو پلار مهربانہ شاہ پہ قام دے
بیا پہ کومہ وجہ رعیت بہ تر غمګین شِی
ن پہ انتظام باندِ خوشحاله رعیت دے
نہ غواړی هیڅکله چہ بدل دِ دا آئین شِی

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمت په هغه چاوی چه مطیع د حکمران وی

د شاه نه چه خلاف شی هغه رورد شیاطین شی

د غلو شو کمارو نشته مسافر سره خطر

نه فکر لری غم که په صحرا سر په بالین شی

حبیب وائی نصیب دی د والی عمر د نوح شی

د قام دا دا دعا د فرشتو دی پرے آمین شی

حبیب الرحمن حبیب

گالوچ ـ سوات

PUKHTO.NET



# ښاغلے امیر حیدر صاحب بونیری

## ریاست سوات

### طرح

یو زه یوازے نه یمه په دے باندے خوشحاله

---

یو زه یوازے نه یمه په دے باندے خوشحاله

دا باره دسمبر دے خدائ محفوظ کړی در ذوالجلاله

یو زه یوازے نه یمه خوشحاله بقول جهان دے

سوات په ښکلی زمکه جهان زیب چه حکمران دے

رعیت وائی سند دے چه دا خنک امن آمان دے

مولی دی په ښادئ لری دا کال تر بله کاله

یو زه یوازے نه یمه په دے باندے خوشحاله

مولی دی په ښادئ سره لری د والی ذات

ذات د ده خوشحاله وی خوشحاله وی سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عدل په انصاف کښې شاه آغستی دی صفات
قدم نقش قدم یې هر یو ږک دې د کماله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

قدم نقشِ قدم یې زه یم په ده د اسلام
اِسلام هغه اسلام وِی چه یې درست خیرئی انجام
انجام د نیک خویونو په والی کښې دِی تمام
د مُلک او د ملت خبره نه ده ترې محاله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

د مُلک او د ملت په محبت کښې وی غرقاب
د خوار و غریبانو په خدمت کښې وی غرقاب
قانون یې شریعت دې شریعت کښې وی غرقاب
آوازې د توحید دې او ربك د بلاله
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله



آوازې د توحید دې او ربك لې برابر
خدای د رسول ته درست وی هغه او کړی مقرر
یو ورزې د باغچې بلورې تله امیر حیدر
بلبل ته گل ویلو چه به ترا ځې صبا له
یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

---

## طرح ۲

طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

محفل کښې خوا په خوا آشنا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع
طوطیان په گلستان کښې د گلونو ننداره کړی
څوک خاندی خوشحالیکی څوک د خپل جوش نعری کړی
څوک د گلو اخلی پرې مخوکې دوه اره سره کړی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاغان به تیختہ لاړه په بیدیا کینا ستہ جمع

طوطیان په گلستان کښې به خندا کینا ستہ جمع

طوطیان په گلستان کښې چه صبا شی خوشحالی کړی

چه باد دَ صبا راشی پانړے خاندی قوالی کړی

نغرے دَ زندہ باد کړی زندہ باد چه دَ قوالی کړی

خوشحاله تمام قوم به مرحبا کینا ستہ جمع

طوطیان په گلستان کښې به خندا کیناستہ جمع

طوطیان په گلستان کښې مصلحت کوی دَ عیش

هر یو په خپله ژبه اشارت کوی دَ عیش

دنیا کښې به دُنیا خلق صفت کوی دَ عیش

ټول قوم مخامخ دَ رهنما کیناستہ جمع

طوطیان په گلستان کښې به خندا کیناستہ جمع

محفل کښې خوا په خوا آشنا کوی خندل

محفل کښې چه خندا کوی هم دا کوی کښتل

PUKHTO.NET



مونږه دَ والی به مساوی نه وی څوک بل

جلوس کښې دَ بنادی ځوئے دادا کیناستہ جمع

طوطیان په گلستان کښې به خندا کیناستہ جمع

محفل کښې خوا په خوا آشنا آشنا کوی مذکور

زړه دَ خوشحالی نه معلومیږی مخ ضرور

اباره دسمبر دَ سالگیرئ کیږی دستور

میدان کښې مجلسیان به رضا کیناستہ جمع

طوطیان په گلستان کښې به خندا کیناستہ جمع

محفل کښې خوا به خوادی دَ یو بل نه تیرو سو نه

په حق کښې دَ والی غواړی دُعا ټول اولسونه

مخلوق کړی دَ خپل توانه خیرات نه مجلسونه

یاران دَ امیر حیدر رلاس به دعا کیناستہ جمع

طوطیان په گلستان کښې به خندا کیناستہ جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح نمبر ۳

هر سړی موندلے لویه برښه ستا دَ لاسه ده

---

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
دا خبره هم هر چا وښکلے دَ خپل قیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه په خدمت کښې ده
هر یوه صیقه دَ شرافت په صداقت کښې ده
ما هم اورېدلے دا وینا دَ عوام الناسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
ما هم اورېدلي چه دَ قوم ځان خادم کړې
ته خدمت دَ قوم کړې، نه چه ځان حاکم کړې
تلے دا فقره دَ فکر پوره ته دَ وسواسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده



دا فقره دَ فکر پوره ته ستا دَ وصف ده
نده باد نعره هم هر یو لوړه ته ستا دَ وصف ده
عدل کړې انصاف کوې دا ستا دَ احساسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
عدل کړې انصاف کوې نه چه ته ظلمونه شته
نه په ترقۍ شوه داسے نور قومونه شته
ښکل په اخبارا تو کښې لیک دَ حق ستا ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
درست په اخبارا تو کښې لیک جهان زیبا ئے ته
حکم مهربانه په عاجزو غربا ئے ته
تېزه رسائي دَ عقل ستا چه دَ الماسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده
تېزه رسائي دَ عقل ستا په سیاست کښې ده
قوم دَ اسلام له ښه فائده ستا حکومت کښې ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورک دِ چغل خور شي دَ چغل وينا نخاسه ده
هر سړي موندلے لويه برخه ستا دَلاسه ده

ورک دِ چغل خور شي دَ چغل وينا اثر نه کړي
بل طرف ته کوچ به هيڅ اميرحيدر نه کړي
دا مِ عريضه په دسمبر دَ التماسه ده
هر سړي موندلے لويه برخه ستا دَلاسه ده

---

## طرحِ ٤

## دروغ نه دِي رشتيا دي په رشتيا کړه دِ يقين شي

---

دروغ نه دي رشتيا دي په رشتيا کړه دِ يقين شِي
لال نشي پټيدلے که په ايرو زير زمين شي

دروغ نه دي رشتيا دي په رشتيا يقين يکار دے
يقين دَ مسلمان دَ پاره ښه ښکلے کردار دے

PUKHTO.NET



ائ به نا جاتړه چه بدل کړي ګنهګار دے
رشتيا به خنګه پټ شي يو سړے که نکته چين شي
دروغ نه دي رشتيا دي په رشتيا کړه دِ يقين شي

رشتيا چه پټوي دا پټول ګناه عظيم دے
سوات والي ته خپل اُستاد دَ خو کړے تعليم دے
او نه دے دَ انصاف منصف مزاج عقل سليم دے
هم دا سے نور قوم و نو له امام دِ جوړ آمين شي
دروغ نه دي رشتيا دي په رشتيا کړه دِ يقين شي

هم دا سے نور قوم و نو له دِ شي امام ښکاره
غيرت به شجاعت کښې دَ آغسته نام ښکاره
يا کښې کوټه په کوټه پاندِ چه شي اسلام ښکاره
بيدار شي هغه قوم چه باشاه ئِ نيک حسين شي
دروغ نه دِي رشتيا دي په رشتيا کړه دِ يقين شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیدا رشی هغه قوم چه نیک خویه ئے حکمران وی
خدمت چه د مخلوق کوی په دې رب مهربان وی
هغه زمکه او غرونه کانړی لوټے گلستان وی
په چا باندې نظر چه د خپل رب العلمین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که د یقین شی

په چا باندې نظر چه وی د رب هغه عادل وی
هغه ته مرتبے د خو اخلاقو هم حاصل وی
د سوات والی پښتانه خدای خبر چه څوک عاقل وی
په باره د سمبر کښ ځما چهاپ به مضامین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که د یقین شی

په باره د سمبر کښ کور په کور باندې بنا دې دی
دشمن دې ئے ذلیل شی چه په زړه ئے ناسودې وی
آزاد خو د غرزوندې بل به څه د آزادی وی



په غیر د شریعت نه که قائم بل یو آئین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که د یقین شی

په غیر د شریعت نه ریاست کښ دستور نشته
قصور د ے د نادانو د دانا وه قصور نشته
وینا کوم د ځانه ما تر دے کښ ضرور نشته
شاعر امیر حیدر د مولی نه کړی چه غمگین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که د یقین شی

---

امیر حیدر بونیری

PUKHTO.NET

# بناغلي اياز صاحب د کراچۍ نه

## طرح ۱۲

يو زړه يوازې نه يمه په دې باندې خوشحاله

---

پرون "د پښتنو" "نن" په خندا را غلو صبا له
زېرې د ښادۍ کوندې هډ هډ راوړې سبا له
غږ د سليمان د ټکه غږۍ ولاړ صدا له
پېغله د آيلم بيا جوړه شوې ده ګڼا له
بخت او تخت او تاج د ځلي توب ځنې زاريږي
که ناز د پښتونخوا باندې نازونه دی نازيږي
تقدير به ګټلي سړي او تدبير ولاړ به پرکاله
فطرت به سره منګلو کښې حنا راوړه حيا له



ختر په نوراني غېږ کښې ضيا راوړه ضيا له
نشې له مستيو ډکې د صبا راوړې صهبا له
الله يار او تدبير دوا راوړه له مرضه قربانيږي
ښادۍ له خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځايږي
فردوس د پښتنو غوړيدلې پښتونخوا له
رضوان زېړې ورکړې هسې رنګې د دنيا له
وګوره د ښادۍ ګوری لوړې نن هر چا له
حيرت هم اراده د مشيت ته دې د وچا له
ټلي پښتون آدم ته خلافت سپارلي کېږي
سوا ده د هيواد چه د ښادۍ به تمال زنګيږي
خيبر چه چا خبر کړه د داسې رنګ احوال له
"ورې پوړۍ" يم په "د پوړۍ" م وجوبيار اغلو خړالا له
کمال د پښتنو وزيږيدو ونکې له زوال له
کمال هسې کمال چه تکميل مومي له کمال له

(c) ketabton.com: The Digital Library



غازی چه تا ته ګورم ننګیالی م رایادیږی
جهان زیبه! تا ته ګورم ابدالی م رایادیږی

مبارک دِ شه دا جشن اے په سیالو کښی بے سیاله
یو زه یوازے نه یمه په ډے باندِ خوشحاله
پښتو په ګټلے شوه چه ئے واک دراغلو تاله
ښادی به ولے نه کړی چه پخپله شوه واکواله
واړه پښتانه به هر وطن کښی خوشحالیږی
نوبت چه نن د سوات په سر دروکښی ستا غږیږی

---

ایاز کراچی



## ښاغلے عبدالمالک صاحب فکری
### تندوډاک - سوات

---

طرح مصرعه

یو زه یوازے نه یمه په ډے باندِ خوشحاله

---

مرحبا فیض مونده ډے بیل بیل ستا د اقباله
مطمئن، خورسنده، ستا په دورِ باکماله
سوات ډکه بونیر ډے دواړه خلاص شو د جنجاله
سوال ستا د عروج کوی هر څوک د ذوالجلاله
یو زه یوازے نه یمه په ډے باندِ خوشحاله
سوړ د رحمتِ ئے قام له ګورے لارے صافے
ورظلم دِ وړک کړه فرشته چه د انصافے

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر قدم چه اخلے مکمل وِی، نه کړے لا

وړاندِ ے هر سوے استا په اقبال شه دَخپل سیاله

یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

لوړه، که جوړه ده، که ختے دے که کمر دے

کلے دے که ښهر دے که سمه ده که غر دے

هر ځائے غوړیدلے ستا دَعدل ښه څادر دے

نشته منزرے هغه بیزو وَتږلیواله

یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

ژے وِی، که اُوږے یکښ هر څوک خی مزے کوِی

یره تر هغه نشته خپلے خپلے مشغلے کوِی

اَمَن او آمان دے اے فکرَی نه څوک ملے کوِی

قام دَسوات دَعلم په دولت شه مالامال

یوزه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله



## طرح ۲

لوطیان په گلستان کښ په خند اکینا سته جمع

---

لوطیان په گلستان کښ په خند اکینا سته جمع

ش رت چه دَخزان ورپکښ اُوکړه قلع قمع

ارِه بن دَ بهار په ښه موسم شهٔ گلستان

ق دحد زیات شو غوټو اُوسپړ دلو ځان

گل شهٔ په خند اچه پسرلے اُو کړو اعلان

بلبل هم نغمه زن شه دَوصال دَگل په طمع

طوطیان په گلستان کښ په خند اکینا سته جمع

افغان دَ باغ لاڅرهٔ، مهر با نه شته خاوند

صیاد ورک شهٔ ظالم نغے غزیږی خو ند په خوند

مستیٔ کوِی خوشحاله دی پرند چرند په ژوند

که لوی دِی که واړه دی هرچا بیاموندله نفع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

عجیبه تماشه ده سوات کښې نن صبا اختر دے
دا ورځ د سعادت ده ښکلے دور بختور دے
وطن ټول چراغان دے ځکه باره دسمبر دے
رڼا د قمقمو ده هر ځائې بله ده هم شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

راضي دی د غازي نه په ښه شان سره قومونه
په دور جهان زیب باندِ او باسی تل شکرونه
فکرې یوازے نه هر یو منصف وائي حالونه
فیضیاب ئې په فیض سره هر څوک دی نشته منع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---



## طرح ۳

### هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

---

هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده
دا صدا څما نه، بلکه دا د عامُ الناس ده
...ض مونده چا نه دے؟ څوک و مړ څوک دی؟ وایه
...ا په ضمیر او مظلومان دی کوم ځائے؟ خدایه
...په کوټ او کوڅه حال احوال، نه چه د ورایه
نوره د انصاف د تیره زیاته د الماسه ده
هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

...کر د اکبر دے سوات پتا باندِ روښانه شه
...ښان اوچت ئې دوره زر چه د هر چا نه شه
...اقبال د چا دے چه محفوظ د هر خزانه شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داکمال دَ دے چه منګول پرے ستا الیاسه دہ
هر سړی موندے لویه برخه ستا دَ لاسه دہ

ن دَ قام دَ پاره دلته هر ځائے اسکول نه دی
نو دَ ترقئ هم ستا دَ وړاندِ اسکیمونه دی
هر خوا ته موجود ستا دَ تعمیر بنه مثال نه دی
دے دا حقیقت، هسے خبره نه دَ قیاسه دہ
هر سړی موندے لویه برخه ستا دَ لاسه دہ

لاس په نام ولاړه فکری دُعاء ستا دَ اقبال کوی
مراد دِ ستا حاصل شی په دارین کښ دغه سوال کوی
ته چه رهبری کوے تفصیل ئے دَ اجمال کوی
تا ګویا آغستے چرته خونه دَ الیاسه دہ
هر سړی موندے لویه برخه ستا دَ لاسه دہ

ـــــــــ



## طرح ۲۱

## دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

---

یو باغ دے پکښ تل چه وی بهار
دَر پکښ ګرځی بلبلان کوی چغار
ته دہ دَ جنت اَمن آمان پکښ بسیار
ان ئے خبردار دَ زمانے دے په اسرار
جنت به وایم ستا ته که جنت په سر زمین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

ته دہ دَ جنت زیب و زینت لری بے شانه
رت پکښ جوړ کړی مناظر دی لا بیانه
ی ګل، غوټئ پاڼے هم ناچ کوی دَ ځانه
آواز دَ طائرانو اَوریدے شی دَ هر خوانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



احوال او کوره راشه چه حال د ته تسکین شی

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

نظیر دے د جنت بنکلے د سوات زمکه نا مدار

طوطیان پکښ چغار کوی بے خوفه له آزار

دا د ور بختور دے، دی هرڅوک شکرگزار

خزان دِ مولی دوړلی دے چمن ـ گلزار

په امن د آقا تو دِ دے هر یو مکین شی

صد شکر د اکبر دے چه په امن کښ اول یو

د قحط کښ مکښته یو د هر قسم غوبل یو

اقبال د جهان زیب دے منظم او مدلل یو

د علم په زیور سره فکری! ښه مکمل یو

حافظ دِ د غازی څو رب العلمین شی

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

(عبدالمالک فکری، تندوډاګ سوات)



## فخر الشعراء جناب ښاغلے شیر محمد خان صاحب مینوش ترلاندی (صوابی)

طرح مص

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

هزار ځله دشمن که بے باکه نکته چین شی

هلال چه د خودئ چرے کمال سره قرین شی

جمال د قاهری ئے هله ستورے د جبین شی

د وحدت په کوته کښ د سلیمان هغه نگین شی

په تخت د حکومت باندِ فائز په ښه تمکین شی

دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



یقین چہ دِ محکم شہٗ نو قوّت ترِ نہ جوړیږی
چہ پاک دِ شہ قوّت نو حکومت ترینہ جوړیږی
چہ نیک دِ بصیرت شہ، عدالت ترینہ جوړیږی
کہ دروغ دِ وہٗ سیرت نو شجاعت ترینہ جوړیږی
پہ ذات دَ جہان زیب کښی بہ دا گُل درتہ آئین شی
دروغ نہ دِ رښتیا دی پہ رښتیا کہ دِ یقین شی

پلاس کښی دِ قلم دَ مقدر وجُود کتاب دے
دَ ژوند پہ سمندر کښی دِ اسمان فقط حُباب دے
پہ سترگو دَ مؤمن کښی دَ ادراک جہان سراب دے
دَ دہٗ او دَ حق مینځ کښی دیر نرے غوندِ حجاب دے
اُوچت شی دا حجاب چہ چہ روح نے دَ شاہین شی
دروغ نہ دی رښتیا دی پہ رښتیا کہ دِ یقین شی

دَ سوات دَ وآلی کار وارہ تعبیر دَ زندگئ دے

PUKHTO.NET



جہان دَ تصوّر کښی نے تفسیر دَ زندگئ دے
حیات نے سراپا وینہ توقیر دَ زندگئ دے
پہ فہم و فراست کښی نے تدبیر دَ زندگئ دے
نظام پہ محکمئ دَ ښہ سیرت سرہ سنگین شی
دروغ نہ دی رښتیا دی پہ رښتیا کہ دِ یقین شی

پہ غاړہ دَ مینوش کښی کہ دا طوق نے دَ خدمت دے
خو دَ والی صاحب نښان دَ محبت دے
وجہ لازم ہما نے تول عمر صفت دے
ملک چہ چا حلال کړہ نو دا عین شرافت دے
کمال دَ حُسن ہم دے دا کہ کور چہ نمکین شی
دروغ نہ دی رښتیا دی پہ رښتیا کہ دِ یقین شی

---

شیر محمد مینوش تورلاندی، صوابی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښاغلی احمد جان صاحب نشتر علیګرام سوات

### طرح ۱

یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

---

دلشاد ګرځي آزاد شه هر نفر چه د جنجاله

یو زه یوازې نه یم په دې باندې خوشحاله

خوشحاله ټول وطن د رب په دې کرم عظیم دے

په دور د جهانزیب کښې چه مونږ څوک شو لوی د سیاله

شکر بیا پرې شکر چه همه سته له دې ذات شه

معراج د ترقۍ ځمونږ نصیب د ذوالجلاله

پښتو نه راشه ګوره ستا وطن څرنګ جنت دے

واوره در ته وائي د هر ګل زبان د حاله



عروج د ترقۍ چه د دې ذات په مخ ځي بیاموند

ګړي هر نفر لکه سورې ماځمونږ د خیاله

عزت دے که عظمت که د دولت دے جهانزیب

راحت د مسرت دے وصول تا کړه د اقباله

او ر د خوږ وطن ته که غوږ کیږدې خلک وائي

الله شه په دولت د خپل وطن د لایزاله

په در کښې د خالق به د نشتر وي دعا دا تل

آشنا کړه مونږ د خوږ وطن د ننګ د لوی کماله

---

### طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

نو ته نیمه شپه کښې جهانزیب بله کړه شمع

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوچت ئې کړه خوګ راګ پسې شروع شو نو بتونه
مائل شوه د هر ملک د هر وطن نه و ته سمع
زاغان که خاپیرک وو روان کل شو نامراد
د نړا د جهان زیب کړه له ئې وا ړو قلع
خوګ وطن حجره به د جنت نه یو حساب شي
د در د لایزال نه د نشتر شوه داسې طمع

---

## طرح ۳

هر سړي مونده لو یه برخه ستا د لاسه ده

---

فضا د کرم ستا چه نن پس حجرې لپاسه ده
هر سړي مونده لو یه برخه ستا د لاسه ده
سیرت د فرشتو نه فیض د نمر نه م آقا حسن
حسین چهره د درکړې لایزال عجب د نا سره ده



سوات د ګلو ګو خو د قسمت چه د اصلاح کړې
سرکنډ مونږه تو لو ته زیباله بنځ خوا سره ده
وطن د پښتنو چه په رشتیا سره جنت کړه تا
د حال ژبه ګویا د هر چمن پړې د احسان ده
شاد د پښتنو د وطن زیبه جهان زیبه
صیاد م حباد په کو دار د چپوراسه ده
طوطیان له د چمن بر د تل ستا ئې په نغمو سره ده
منحوس زاغ باد زاغ ده چه محروم له ئې سپاسه ده
دایم نه پښتون در ته قائل چه په احسان نه شې
په کامیاب نه شي ثابت حجرې د قیاسه ده
اې حجرې سلطانه مبارک بیا مبارک دې شه
وینا د نشتر داده چه سرګنډه لره قرطاسه ده

---

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



## طرح ۱۲

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

---

پښتون به خوار شی ځنګه چه بادشاه یے دا آمین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

نه یم ریاکار بچګان نه خوښ م ریاکار شی
ځای د ریاکار به په آخر کښې تحت ترین شی

کیده لږ قدم ستا د سوات په سرزمین کښې ته
ګوره کائنات چه څوک وطن ستا آئین شی

دے د دم قدم د عالیجاه بلند ستا ځمونږ
زیات به له دے حاله استقبال ځمونږ رنګین شی

آباد لرے خاونده حکمران ځمونږ د سوات
په سوال دِ د نشتر له فرشتو هم آمین شی

---

احمد جان نشتر سکنه علیګرامه سوات



# ښاغلی مولوی ضیاء الحق صاحب
## علیګرامه سوات

---

## طرح ۱۱

یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

---

یو نیم تل حکمران اوسے اے شاه بلند اقباله
هر څوک دِ هر مند کړه له خپل جو او له نواله
ټول ستا دعاګانے کړی که څوک لوی دی که خوړ رساله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

جوړے دِ هر ځائے ځمونږ د پاره مدرسے کړے
خوله د هر سړی دِ د علمونو هم سے کړے
معمور دِ کړه کل واړه د هنر او د کماله
یو زه یوازے نه یمه په دے باندِ خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهغه افغانان دي چه پیښه ئے شه شدت د
له روږ اوله عزیزه ئے بغض وعداوت د
بل کار به له دوی نه وه بے له جنګ اوله جداله
یو زه یوازے نه یم په دے باندے خوشحاله
اوس ناست دي په آرام سره کوی عیش وعشرت
پیدا ئے یوله بل سره دے انس او محبت
تول ستا شکر ګذار دي خلاص د ظلم د جنجاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندے خوشحاله
جاری په هر مقام باندے ستا بحر د کرم د
ن ستا په اهتمام سره تول سوات باغ ارم دے
پاک رب دِ معمّره په عمر نوح کړه نیک خصاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندے خوشحاله
پو نړ تل حکمران اوسے آشاه بلند اقباله



چه په قدرت د رب موجود زمکه آسمان وی
سوات په سرزمین کښي جهانزیب د حکمران وی
دا سوال همو نړ قبول کړے په خپل فضل ذوالجلاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندے خوشحاله
پاک رب دِ معمّره په عمر نوح که نیک خصاله
ضیاء الحق دے ستا غلام حلقه بګوش
دِ کړے له خپل لطف وکرم نه فراموش
د داسے خاکسارانو پرورش کوه دعاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندے خوشحاله
هر څوک د هر مند کړه له خپل جود اوله نواله

---

مولوی ضیاء الحق، علیګرامه - سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښاغلے جناب سلطان محمد صاحب منګوړی

طرح نمبر ۱

یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

دا ټوله رحمت د رب دے په جهان دیر بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
دنیا کښې د هر قوم د انتظام نشته امیر
هیڅ امن ممکن نه دے بے امیره په جهان
دا شاذ بلکه عدم دی چه آمین وی د جهان
رحمت خوئ فرشته څوک والی دے بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
بے له تربے دیا تل د خپل قوم کوی خد

PUKHTO.NET



روز غمخوار د قوم د ترقئ ده یی په محنت
اصی دے تربیه څکه رب په دغه نیک خصلت
جلال کمال یے څکه دے د رب نه بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
ان څوک د ستوا دے جهان زیب په زړه سلیم
ان د هر نیک کار دے بلاریب په زړه حلیم
ول د عام الناس دے شرافت لوی عظیم
صد آفرین پتا شه او الی ستا په افعاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
رو ښا نه شه تاریخ هم د ګل ستوا ستا په دوران
ل ستا د انصاف څکه هر څوک دے د جهان
ر اصل مجاهد یے د خپل مذهب د کوه روښان
قائد لقب د ستوا صدر اعظم دے بے مثاله
یو زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سوات یو گلستان دے ته هم گل او هم شمس
دادرس ده مظلوم لره ته سایه ده شبنم
ته ستوري د رحمت لره ته رهبر ده بشر
د ټول قوم پشت و پناه لره گشتیبان لره بے مثاله
یو زه یواز نه یم په ده باندې خوشحاله
در اصل ته د خدائ لره پرستار دې پیر په خلوص
ستا نیک عمل ده مومن په زړه چو شوے موس
ده مفسد د زړه نه حسد دور شه ستا په چوس
نن سوات دارالامان شه په آرام دے بے مثاله
دعا و رب ته مدام کوم زه مرزا سلطان
آمان دې د زوال کړی رب د عدل دا میزان
قایم دې په جهان وی د اقبال ستوري روښان
فصیح ملیح بشر خمونږ والی دے بے مثاله
یو زه یواز نه یم په ده باندې خوشحاله



## طرح ۳

طوطیان په گلستان کښې په خندا اگینا ستر جمع

---

دا باره د سپرلي یو نسیم د نو بهار
طوطیان په گلستان کښې په خندا اگینا ستر جمع
دا باره د سپرلي پنځم کال خمونږ د عیش
دا آن چوړه د رحمت دے دا تاریخ خمونږه بیش
روښانه کواکب دے دا اقبال خمونږه خویش
دا ستوري د رحمت دے جهانزیب ده دیار
رڼا پر سوات بونیر دے کل جهان دے په طمع
عادل دے جهانزیب رب په سادل باندې کړي جمع
یاره د ظالم لاسه نن په سوات شروع دے فجر
شب و روز غمخور د قوم دے تل ظالم ته کوی قهر

PUKHTO.NET

د امن فرشته ده د رحمت د رب غفار

دا سوات دارالامان دے په رشتیا سره بے غمه

د قوم د ملک د پاره شب و روز کوی محنت

هم خوب او هم خوراک یې دے د قوم په محبت

عاشق دا جهان زیبا دے معشوقه خپل رعیت

دراصل مجاهد دے، رد بدعت، شو سره لار

دعاء د عام و خاص روانه جاری ده فمه

ملیح دے هم فصیح دے جهان زیبا د هر بشر

ناصح د هر قبیح دے دل صفا دے په عنصر

روښان پرے کل جهان دے معطر دے منور

انتقش فی الحجر یې په دنیا جوړه یادګار

مقبول د عام و خاص دے مشهور د قول عجمه

طوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمعه



[illegible] سوال ته په درګاه د رب غفار کوه اے سلطان

[illegible] کل مخلوق دے هم رښتیا زیب د جهان

[illegible] د ترقی عروج د سوات دے د آسمان

[illegible] د عدالت رب جاری لوے په جار

[illegible] روښانه پرے کل سوات د زړه خالی لری د غمه

طوطیا په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع

طرح ۳

[illegible] سرې مونډلے لویه برخه ستا د لاسه ده

[illegible] د صباحی شوے چه رښتیا د عام خاصه ده

[illegible] سرې مونډلے مونډلے لویه برخه ستا د لاسه ده

[illegible] رحمت یې ته تا فیض رسی هر چا ته

[illegible] رحمت یې چه جاری شوے هر خوا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیب دَ کل جهان شوے دَ زیرو نه بالاؤ ته
ابر دَ بهار یې غنچه زمکه ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونږ لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ته باد نسیم یې چه مدام بهار دَ ګلو یې
خو ښه منقسم یې چه مدام سهار دَ ګلو یې
خو ښه منتظم یې چه مدام معمار دَ ډلو یې
هر پښتون شرف رتبه مونږ ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونږ لویه برخه ستا دَ لاسه ده

ته خوشبویه ګل یې زیب دَ باغ او دَ جهان یې ته
ته زیبا دَ دربل یې سیال دِ نیشته عالیشان یې ته
ته قدرشناس یې قدرمنده قدردان یې ته
تل عفوه سزا په مظلومانو ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونږ لویه برخه ستا دَ لاسه ده

PUKHTO.NET



تل ته مساوات دَ هر مسلم کړوے دَ ځان سره
نشته عدالت کښې تفاوت زیرو بالا سره
ګڼه رب نظر دَ رحمت کوی له تا سره
ته مشعل دَ سوائے رڼائي پر ستا دَ لاسه ده
هر سړی مونږ لویه برخه ستا دَ لاسه ده

بادشاه دَ سمر ده دا پنځمه سالګره دَ ستا
هر سړی مسرور دے استقلال دَ دخیل ملک دَ جا
بخت دِ بار آور شه جهانزیبه! ستا بنده ماه
تل کوی دعا سلطان محمد چه دِ دَ لاسه ده
هر سړی مونږ لویه برخه ستا دَ لاسه ده

## طرح ۲۸

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تل زیب ستا د جهان دے، جهان زیب که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

اے سواته، ته صدف یې دُر شهوار ستا جهان زیب دے
محفوظ دا امانت سا ته د رب نه ستا دا زیب دے
تل خیال یې تو کمال سا ته زوال یې ستا هر عیب دے
کمال یې ستا کمال دے دا کلام که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

اے سواته، ته تاراج دې تل د غیرو وے آماج
بے سره سر پرست تباه برباد لکه دُ حاج
صد شکو دے مالک شوې د خپل قوم د ملک د راج
سامان هم د عروج کمال به ستا جوړ بالیقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

ستا و رانه شیرازه وه، مکمله شوه هښیار شه



معمار د خپل قوم پیژنه ځان ویخ کړه ښه بیدار شه
تعلیم، صحت، تنظیم شه ستا نصیب شکو گذار شه
دالوی عمځو ادهم رد ستا دا والی دے که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

حفظان بچاؤ د خپل عزت دولت که دِ مطلب وی
هم رد شه د سردار زیب د جهان که دِ مطلب وی
دیوه د خپل قسمت ده، ډیر احتیاط که دِ مطلب وی
ځان یوې په سود و زیان په ایمان که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

گمنام وے ته اے سواته تل د غیرو وے غلام
ظلمونه، بدعتونه، ورانه رسمونه نول د قام
مالک د شریعت د سیاست شوے نیکنام
مشکور به د احسان د خپل والی شی که یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا ستا تماشګیره ده ستا د عقل په نظام
تل هوش عقل سلیم ساته د خپل ملک په دوام
هلال انګشت نما شوے د عروج په هر یو سبام
تل زیب ستا د جهان دے جهان زیبا که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

ماهر د سیاست دے جوړ رستم د زمانے
قائدِ حکومت د سوات دے یو یادګار د زمانے
قاسم فاتح د سوات دے د بدعت د زمانے
ژوندے نوم آبدی شه، زیب د سوات که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

دراصل خیرالناس دے د اسرار حکومت د قوم
رحمت دے د الله حکومت د پاره د قول قوم
بشر د رب په فضل دے غیبی رحمت د قوم



ماهر د سیاست عقل سلیم که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

در شب و روز کوشش جاری دے ستا د ترقی
نه خرڅ چه ستا اولاد له جوړ بنیاد د کامیابی
د ټولو نه وروستے وے اوس شوے وړاندے په سیالی
اے سواته خوش قسمته په خپل دین که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

مرزا سلطان به تل د رب په دربار کوی دا سوال
عزت ژوندون مدام ورکړے د خضر په مثال
دائم دِ د قسمت د سوات ساتی تل د زوال
تل زیب دے د جهان په جهان زیب که دِ یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

---

سلطان محمد، منګوره، سوات

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ښاغلی شیر صاحب چند خوره سوات

## طرح ۲

**دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی**

تیاره کښې رڼا هله وی ښکاره چه عارفین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

تیاره نوره تیاره وه چه لا نه وه حکومت
نه علم نه ادب وه نه چا پیژند شرافت
هر څوک وو بې خبره د هنر او د حکمت
نه ډول وه د خلقو او نه دا زیب و زینت
همت اوکړی مالیار نو مرادې بوټی هله شین
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی



همت د جهان زیب چه کړه د عدل ډیوه بله
پښتنه د خپل قام نه یې د هر تکلیف کوله
فائده د رعیت به یې هر وخت لټوله
مدام میوه د رحم یې په هر مقام کوله
اوس وائی ټول قومونه چه په شاه د آفرین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

اوس وائی ټول په شوق چه د شاه یو وفادار
قائم دې وی تل دا سلطنت په ورو دې ګار
دا ښکلے وطن باغ شه په دې باغ تازه بهار
رشتینې وائی شیر خادم لفظونه د اشعار
راځی دې د هر ملکه نه څوک سیل ترشا یقین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دیقین شی

---

شیر، چنداخوره، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بناغلے خور مهر النساء صاحبه بانو
## کوکارئ، سوات

---

### طرح ۳

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

هر سړی موندلے لویه برخه ستا د دره ده
منع د عطاء نه د کهتر، نه له مهتره ده
بل چینه جارِی د عنایت دِ له دفتره ده
هغه توے فائز چه اراده ئے له اخلاصه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

بلبل کوی نغمے په باغ کښ توځی په نخره
قدم اخلی د نازه په رو رو راځی خاره



شر شور کوی طوطیان د دے وطن په ...
دا ستا بنکلے دوران بنه زمانه خه به ...
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

قومه خوشحالیږئ چه نن باره د سمبر دے
والی صاحب په دے ورځ اینبودے تاج په سر دے
ده ورځ د خوشحالئ حکه په هر سړی اختر دے
خوشحاله نن عالم دے خوشحالی پړے بے قیاسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

ستا بنکلے دوران دے پرے مزے د غریبانو دی
خاندی خوشحالیږی خوشحالئ به مظلومانو دی
سخت ورځے نن د ریاست په ظالمانو دی
رب دِ اجر درکړی داد عام خاص الخاصه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

تا د علم جال په وطن خور کړه فیض رسانه
هر یو کار د خیر کړے ته خپل قوم له مهربانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دَ فیضِ عام نه رعیت شه تول ښادانه
ځکه دِ رتبه په بادشاهانو کښې بیا سره ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

حق چه ستا دَ شکر نه منی هغه انسان نه دے
نه محسن هغه دے چه قایل دِ دَ احسان نه دے
رب چرے ملګرے دَ ناشکره مسلمان نه دے

ستا ده دعاګو ځکه بانو چه حق شناسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

مهر النسآء بانو ، کوکارئ ، سوات



## ښاغلے پیرِ محمد خان صاحب ډاګی، سوات

---

طرح ۱

زه یوازے نه یمه په دے بانِدِ خوشحاله

خیر یوازے ما دَ پاره نه دے خو دَ عام دے
هر سړے رضا دے ځکه خلاص شو دَ جنجاله
زه یوازے نه یمه په دے بانِدِ خوشحاله

نشته دے خفه د رنه هیڅوک دَ سوات په ملک کښې
نور ملکونه وائی چه شو لانِدِ ستا دَ جاله
رعیت به دِ خود فخر کړی چه ستا غوندِ ئے شاه دی
هر سړے دِ لانِدِ دے پوره پوره دَ خیاله
دا ستا دَ توفیق سوال چه کوی په ځامینِ دی تول
بل تا غوندِ څوک نشته چه دشمن کړی بے مجاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سوات که حیوانات که جمادات دی ټول نارے وهی
عادل دے ته عادل اے والی شاه باکماله
پوره به وصف نه کړی که شروع پیر محمد خان شی
که تیر به دے وینا کاندی اتلس نولس کاله

---

## طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع

PUKHTO.NET

طوطیان په ګلستان کښی د خوشئ کړی خندید ه
د یو شاخ نه کړی بل شاخ ته د نازه جهید ه
تیاره د خیره لاړه زاغان ځکه رمید ه
د ده د ځغنه تختی د دښمنانو تیره وی دمع
طوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع
تیاره د ملکه لاړه په وطن آبادانی د ه
ویستلی دی د وستانو د آرام زندګانی د ه



چه بغض لوی زړه کښی دیره ئے زیاته نادانی د ه
قربان چه لتاسه کړی ورسره ئے د عقل قمع
طوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع
وطن د دختن ځئے دوچند جوړ که نقا د
خوشحاله به وی هغه چه کړی تیر ساعت په یا د
نه جهل شته نه مکو نه فریب شته نه فسا د
دا رحم د چه بله شوله ستا د حسن شمع
طوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع
په ورځ د تاجپوشئ خلق یو بل ته مبشیر شو
د زمکے زیر ګنجونه د زمین سر ته ظاهر شو
د چالاس کښی چه خاک وو هغه واړه جواهر شو
ته ئے سنګ فارس خلق به زر کړے لری طمع
طوطیان په ګلستان کښی په خندا کیناسته جمع
په فضل د الله د هره چارکه منتخب شه
بالا د په شاهانو کښی اے شاه لوئ منسب شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ دے صاحب وطن واړه په مثل دَ جنت دے
خوشحاله ترے هر وخت تمام واړه رعیت دے
دعا ورته کوُ نن ده هر یو کار دِ ئے سنګین شی
دعا ورته کوو نن ده دا دعا دِ رب قبوله کړی
خلاص دِ ئے په دین دنیا کښ پاک الله دَ نوله کړی
نیکه ئے غوث الزمان دے په دعا دِ ئے رنګین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی
نیکه ئے غوث الزمان دے په سید شریف مزار لری
تخت ترے دشمن شاه جهانزیب لاس کښ تلوار لری
شی دِ مبارک هم مبارک دِ همنشین شی
شی دِ مبارک مبارکی مونږ له پکار ده
وئ پیر محمد خان دَ ډاګی پاکه راته لار ده
دا دور دِ قایم وی هم قایم دِ ئے آمین شی
دروغ نه دی رشتیا دی په رشتیا که دِ یقین شی

---

پیر محمد خان ډاګی، سوات

PUKHTO.NET



## ښاغلی محمد نوشیروان صاحب شاه ډیرئ

### ریاست سوات

---

### طرح ۱۱

### یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

---

یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
خوشحاله هر انسان دے ځان خبر که دَ احواله
خوشحاله هر انسان دے خوشحالی کړی کور په کور
بورا په سرو غنچو دَ باغچو ګرځی لور په لور
بلبل دَ ډیره جوش ځان له جوړ که تنګ تکور
بادشاه چه عادل راغے خلاص شه خلق دَ جنجاله
یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
بادشاه دَ عدل راغے هر ځائے جوړ شه انصاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ حق په سترګه اُوګوره پکښې نشته خلاف
بیزه شاه اُو به سکې تل به یوګو درکښې صاف
قلم مې شه ناچاره ستا دَ وصف دَ کماله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندِ خوشحاله
قلم مې شه ناچاره ستا دَ وصف نه سلطانه
عادِل يې رحمدِل يې په غریبو مهربانه
رشتینې ظِلّ الله يې اې ځمُونږه حکمرانه
بادشاه دَ هر وطن شې سوال کوم دَ ذوالجلاله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندِ خوشحاله
بادشاه دَ روئ زمین شې دعا کوم شام و سحَر
تاریخ دَ تاجپوشئ دِ دې په بارهٔ دسمبر
دا ورځ دَ خوشحالئ ده ټولو ته باندِ لوئ اختر
مرزا نوشیروان ځکه په جوش کړې دَ خیاله
یو زه یوازې نه یمه په دې باندِ خوشحاله
خوشحال هر انسان دې ځان خبر که دَ احواله



## طرح ۲۷

## طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع
شُکر دې الله چه دَ زاغانو لاړ شوه طمع
شکر دَ الله دې چه زاغان شو تار په تار
بیا چه شه په سوات کښې دَ مظلومو مددګار
فضل په ټولو وشه دَ خالق غنی غفار
دَ ظلم تیاره لاړه چه روښانه راغله شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع
تیاره دَ ظلم لاړه رڼا يې شوه په جهان
مولیٰ دِ تل پسې لری ځمُونږه حکمران
دَ سوات زمکه يې جوړه کړه خائسته جنت نښان
دَ حق په غوږو واوره دا ځماندا په سمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع.

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ حق په نظر اُوګوره دَ سوات په سرزمين
ځائے ځائے بنګلے ښائسته باغچے په ښه آئين
سوال مِ په درګاه کښې دے دَ رب العٰلمين
خاوند دې لايزاله دَ دښمن ئے اُوباسي قمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناستل جمع
خاوند لايزاله دښمنان ئے کړے تاراج
تر څو چه وی ژوندے پس دَ ده لره دا تاج
مزا نوشيروان په محبت لکه دَ تاراج
دَ خولے نه ئے دَ جوش نور رَ اُوختله لمع
طوطيان په ګلستان کښې په خندا کيناستل جمع

طرح ۳۱

هر سړی مونده لو يه برخه ستا دَ لاسه ده

هر سړی مونده لو يه برخه ستا دَ لاسه ده
شک پکښې هيڅ نشته دا خبره بے وسواسه ده



شک په دے کښې نشته ځاواره قيل و قال
ظلم ستم زوروره هر سړے وه په جنجال
چه ته دَ سوات زمکه چه ته دا سے ځه ول ځال
لاندِ په تهذيب چه وه دَ هر چا اُوس لپاسه ده
هر سړی مونده لويه برخه ستا دَ لاسه ده
چه وه تهذيب سراسر جوړ وه جهالت
دَ خان ملک دَ لاسه دا وطن وه په زحمت
فضل دَ رب و شه ستا پړے راغے حکومت
اُوس که فکر اُوشي نظاره دَ کور و پاسه ده
هر سړی مونده لويه برخه ستا دَ لاسه ده
اُوس که فکر اُوشي نظارے دی نور پلور
لاړے موټرے دروځي هر سړے پکښې سور
سر کوه مزين شو آبادي شوه کور پکور
ژبه دَ قلم مِ تيره کړے دَ الماسه ده
هر سړی مونده لويه برخه ستا دَ لاسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به د قلم تیره کړې په هنر
تاریخ نه چې مې وکاته وه باره دسمبر
هر سړے خوشحاله کوئي جوړ دے پرے اختر
مرزا نوشیروانه خوله دې ډکه د سپاسه ده
هر سړي موندلے لویه برخه ستا د لاسه ده

---

طرح ۲

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي

---

دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي
آواز د صداقت چې وي د هر چا پکے آمین شي
دروغ نه دي رشتیا د ماضي او کوره حالات
پوره به در معلوم شي حقیقت او واقعات
د عدل زمانه د خوشحالي ده نن په سوات
امن دے امان دے خبردار دې سامعین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي



امن دے امان دے هر سړے دے په آرام
سوات شو په مثال یوه نمونه دار السلام
غازئ ملت چې بنه خدمت او کړو د قام
په خپله به قائل شے که دې زړه کے باد آئین شي
په خپله به قائل شے چې خبر شے په احوال
چې ته به په دنیا کښې به ئې پیدا نه شي مثال
دائم دې وي قایم دې وي دا ستورے د اقبال
قبوله که دعا مې په درگاه د رب متین شي
قبوله که دعا مې شي په در د پاک اکبر
مبارک دې تا جشن وي نن په باره دسمبر
مرزا نوشیروانه ستا پوره نه شه دفتر
که لاندې د نظم نه دې تاریخ د سنه مین شي
دروغ نه دي رشتیا دي په رشتیا که دې یقین شي

---

مرزا نوشیروان شاه ډیرئ، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلے شیر افضل صاحب افضل

## سید وشریف، سوات

---

### طرح ۲

طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

---

چه بله ورته شوه دَ جهانزیب رخسار شمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

ګلونو هر طرف ته په بوستان کښې اُوکړو زیب
ځای په ځای انصاف دے چه ته نښته دے فریب
هر ځائ اَمنُ آمان دے په اقبال دَ جهانزیب
شمشاد ئې سلامی لره راځي دَ باغ رمه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

طوطیان ئې سلامی لره راځي دَ سر درونه

PUKHTO.NET



پاتے به حیران شې که خبر شوے دَ قِصُو نه
تیاره دَ جهل وړے ده دَ سوات دَ کنارونه
هر ځائې خوشحالي ده سالګره دَ نن شپږمه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

هر ځای خوشحالي ده ګل دَ ګل سره سیالي کړي
سواتیان بے غمه ګرځي ټول خوشحاله خوشحالي کړي
خدائے دے تمامت چه حفاظت ئې دا مالي کړي
څو ومه ئې پرې ایږي نه دَ څوک دَ لطف ډکړمه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

څو ومه ئې دَ دره څوک تلے نه دے
راغلے چه په خیال کښې څوک دَ ده دے
شکر دے پکښې نښته رحمدلله ښه پوره دے
افضل والئ سوات مانې دَ قربان دَ دے صنمه
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کینا سته جمع

## طرح ۳۱

### هر سړی مونده لوی په برخه ستا د لاسه ده

کڼ نه یم په غوږو ما اورېدلي دا عام خاصه ده
هر سړی مونده لوی په برخه ستا د لاسه ده

کڼ نه یم په غوږو د هر کس یم اورېدلي دي
دروغ یمه په سترګو کاروانه یم ستا کتلي دي
سوات شولو ګلزار چه ظالمان تر ربه ویستلي دي
داسې ظالمان په مخکښې ستا د خپو خزلي دي
اے د عدل ستوریه ما ویستلے دا د قیاسه ده
هر سړی مونده لوی په برخه ستا د لاسه ده

اے د عدل ستوریه ستا پښتانه حکمران
چه ته به پیدا نه شې که چا نه کړې ټوک جهان
سخاکښې ستا پښتانه به پیدا نه شي داسے خوان



تاجداره ناموره رب دې تل لره شادان
درجه دې رب سوا کړه دا دعا مې د والناسه ده
هر سړی مونده لوی په برخه ستا د لاسه ده

درجه به څنګه د یار دې کړه بلنده پاک سبحان
مالیار دې هم الله لره د سوات به دې بوستان
ډیر به وی کم عقله چه به تا نه وی خفګان
حق تا به حقدارو تقسیم کړے په خه شان
هره فیصله ستا دیوے پلے لپاسه ده

د حق دې فیصلے دی پرے قائل هم ملکونه دي
حکمرانے سلطانه هر ځای ستا صفتونه دي
بنګلے دې نظام دے ځای په ځای شنه چمنونه دي
لاره تیاره کړی بل به هر ځای مشالونه دي
افضل وائی عمر دې ډیر شه دا زما استاد اخلاص ده

شیر افضل، سید و شریف، سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلی خان صاحب منګوره، سوات

## طرح نمـ۱

**یو زه یوازې نه یمه په دې بانډ خوشحاله**

یو زه یوازې نه یمه په دې بانډ خوشحاله
هر انسان چه وینم کوګ ګرځي له خیاله
سوړه سمبالیګي، قد د صنوبر وینه
راشه تماشې له، ته د قام رهبر وینه
دا زیب د جهان دے، ډک دے د کماله
یو زه یوازې نه یمه په دې بانډ خوشحاله
دارحم چه اوشه، پمونګه په سحر کښي
ګل شه دا ګلاب، په بارهٔ د سمبر کښي

PUKHTO.NET



دے چه خدای بادشاه که، شم زار د هغه کاله
یو زه یوازې نه یمه په دې بانډ خوشحاله
دے چه خدای بادشاه که په بارهٔ د سمبر
لرې ده یو دم که د عدل قام ته وز
موسم د پسرلی شه، شو خلاص د پشکاله
یو زه یوازې نه یمه په دې بانډ خوشحاله
خاوره یو شه زر سره، کانړي یو لعل نه شو
چوړه تړې قسما قسم راشه وینه ګلونه شو
خانې حکمران دوی دا بلند اقباله
یو زه یوازې نه یمه په دې بانډ خوشحاله

## طرح نمـ۲

طوطیان په ګلستان کښي په خندا کینا سته جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع
ملک ټول بهار بهار شه، شوه بل د عدل شمع
چه کوم وخت په چمن کښې د طوطیانو شه چغار
سړي ځان له جوړه که عجیبه ښکلې سنګار
د عدل خوشبوئي شوه بلبلان راغله په طمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع
روانه خوشبوئي د عدل شوه د ښهر یار
په بارګه د سهر کښې تاج پسر چه که تاجدار
غګ د اختر اوکړیه د هر سړي په سمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع
هر سړے خوشحاله شه چه شه دریم اختر
شروع عدل انصاف شه لر شه د عدل ور
ډیره خوشحالي شوه د هر چا وچه شوه دمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع



دا عدل انصاف نشته نن په زمانه
لوی وارهٔ ځمونږ ه شو په عقل پیمانه
اے خانے قصابه هر څوک پوهه شو په لمع
طوطیان په ګلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

طرح ۳

هر سړی مونږ لویه برخه ستا د لاسه ده

PUKHTO.NET

---

هر سړی مونږ لویه برخه ستا د لاسه ده
جهنډه د ترقۍ ځمونږ په ټولو جهان د پاسه ده
ستا په همتونو سره لوړ ځمونږ وطن شه
د سیالو سره سیال شه، ښکلے هر ګلشن شه
دا مهرباني د هم د عدل د لباسه ده
هر سړی مونږ لویه برخه ستا د لاسه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ رنګ ترقئ و رکوے قام له مُلک ذیبا شه

په باره د سمبر کښې دَ هر ځا حق ادا شه

راغلے دا انقشه هم دَ سنے یو کم پنځا سره

هر سړی مونده لویه برخه ستا د لاسه ده

دا کار په اتفاق اُو شه، ستا په نیک خصلت

تل به ته کامران ئے، چه وی دے دا صفت

دا معلومه شوه مونږ ته هغه وخت دَ قیادت سره

هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

اے خانے قصابه، ستا چه څومره توان وی

صفت به دے په خولے کښې دَ خپل عادل سلطان وی

وتلے دا ټکوره یُو دَ سختئ او دَ افلاسه ده

هر سړی مونده لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

طرح ۱۲

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی



دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

چه دا عدل انصاف وی جهان به یُو رهین شی

ښهر ښار به وطن وه جوړ دَ ظلم یو سنګار روه

یو دم ئے صفا که چه عادل ئے شهریار وه

لیدے دَ عزتونو سنګارن به هر جبین شی

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

خپل حمونږه مُلک دے، خپل ئے حکمران لرو

تل شکر ګزار یو چه دا سے رنګ سلطان لرو

هغه مُلک به لوړ شی چه سردار ئے خپل مکین شی

دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

دَ ده په برکت حمونږه لاړه شه جهالت

په باره د سمبر وطن ته راغے ډیر راحت

داوئ خانے قصاب چه لوی داره به یُو حسین شی

---

خانے قصاب - منګوره، سوات

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بناغلے دِلاور خان صاحب. ډاکے

## ریاست سوات

### طرح ۱

یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

یوزه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله
خوشحال رعیتیان دَ سوات په عدل دَ حضور دی

یوزه یوازے نه یم په انصاف دَ صاحب ګورم
مستی ټول رعیت کوی دَ هر قِسمه چه ګوری

پړدی مال ته کاته دی دَ هر چا په زړه کښې شرم
غنیان وارهٔ سواتیان شو، لمتوِی دَ دولت لوری

انصاف دَ شاهِ سوات اکړه دَ ټولو خاطر نرم

PUKHTO.NET



اکثر صاحبِ مال شو زکوٰة نه یے خیل زوری
مخلوق تعلیم یافته رعیت ټک شه دَ کماله

قایم دِ دا انصاف وی خزانے چه پرے مشکور دی

قائم دِ حکومت وی څو چه وی دنیا آباده
بلاس دِ دَ شاهئی دَ صاحب د از تغیر محکم وِی

بهار دَ حکومت دِ خدائی ساقی دَ غم دَ باده
دا دور دَ ګلونو دِ په دے ګلشن هر دم وِی

دبدبه دِ دَ شاه تل وِی دا دبدبه دَ سوات حیا ده
حیا دِ دا حکومت پس شب و روز هر دم وِی

نګاه دَ غم بیانونے دَ سوات شاه د رحم خیاله
دا زه یوازے نه یم په دے باندِ خوشحاله

حکومت معتمد دِ دَ شاهئی په هر دستور دی
خوشحال رعیتیان دَ سوات په عدل دَ حضور دی

حکومت دِ وی ستا حاشے دَ حکم اے سلطانه

معنی لکه د متن، متن وي چه د معنا نه
مسکن دي ستا گلشن شي، د گلشن نه ته شې څوانه
ترڅو چه دا دنیاوي ته محفوظ شې د دنیا نه
کشتن دي ستا تاجدار وي چه تاجدار شي د هر شانه
ایمان دي سلامت شه، سلامت شې د ایمانه
دشمن د رعیت دي همیش ستاوي بې مجاله
ستا تاج دې دولتونو رعیتانو په تا معمور دي
رعیت راضي په ګډ دې چه د تا پرې نیک خیالات دي
خیالات دي د نیکۍ همیشه ستا د قوم پسر وي
ظلمونه ستا په نیک فهم د خوارو پسرو محط دي
بې د خپل نیکه دي همیشه د تا رهبر وي
حقوق د عدالت ستا دي په هر وطن کښې زیات وي
داغمک دي قاف تر قافه مدام ستا د بر نه بر وي
ترڅو چه دلاور غمګین محروم نه وي د قاله
د هغې دا سوالونه تل په دربار کښې د غفور دي



## طرح ۲۰

## طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع

---

معموره پرنده د سوات په ملک کښې په ثمر دي
طوطیان په گلستان کښې په خندا کیناسته جمع
معموره هر آشیا د سوات په ملک کښې په خندا دې
محفوظ امن امان یکښې چلیږي د هر قسمه
موسم د بهار دې د سوات په خدمت مدام پیدا دے
اقبال د شاه سوات بدخواهان کړه بهر د رسمه
گل هر وخت بلبلو ته د نازه په ندا دے
خوف ووت د گلونو د خزانه د جهان بجسمه
شبنم څو تهي غوټې لباد گلو مقرر دې
طوطیان او بورانګا خوشنود به کیناسته جمع
طوطیان او بورانګا په سوات کښې ډیر معتبر دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



موسم په عدالت په سوات کښې هر زمان ګلزار دے
دَ خوف نه نه خزان خفګان ژړیکی کور وکړ دی
حیوان څه نه وطن ته ټول کابل او قندهار دے
موسم پرے معتدل ګرمي یخنی سم برابر دی
آبي دَ سوات هر کلے په نیک فهم دَ سر دار دے
چمن چمن څه نه دے وړب ځنې بهتر دی
مخلوق دَ هر وطن دلته شاد اګیناست جمع
راځی دَ سوات لیده وله دَ هر قسم مخلوقات
والی صاحب دَ سوات نام منور که قاف تر قافه
حافظ دَ سوات ایستلی بد خواهان دی دَ هر بات
منسوخ ظلم زور شران دَ هر قسم اسرافه
رهبر دَ غریبانو دا سلطان دے عالی ذات
ګواه پرے ټول عالم دے چه هم کښې دَ انصافه
مشتاقه دیر عالم دَ سوات دَ شاه عدل ګستر دی
بد خواه دَ شاه دَ سوات ګوشه چند ګیناست جمع



دا دور دِ مدام وی په قسمت دَ حکمران
شاهی چه دَ اول آخیره وی دَ ټول اولاد
ګلشن ګلشن دِ سوات چه راهی وی پرے طوطیان
طوطیان او میلمانه پکښې اوسیږی خاد و باد
واصف چه دلاور غمګین پرے بخیل لسان
دا څول دِ دَ سوات اوی په والی صاحب آباد
ګلونه دولس میاشتی په باغ کښې معطر دی
زاغان ترې بیزار مان کښې په سود ګیناست جمع

---

## طرح ۳

هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---

خوږه سائیلانو اراده چه دَ کوم کار کړے
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږ ساېلانو اراده چه د دولت وکړه

نول هغه مارهٔ شو پکښې یو یا تې محروم نه شه

واړه فقیرانو افسانه دِ د شهرت وکړه

یاتې یو سائل به سوات خوارچاته به نوم نه شه

دا د تقسیم برخې به جمعه کښې حرکت وکړه

هر سائل سخی شه نام هر کړ یاتې د شوم نه شه

څکه به یورپ اشیا د سوات نالے اظهار کړے

چترے پس د بادشاهئ لمن نیاسره ده

دا د شام ثانی به سوات کښې بل چه دویم شام جوړ شه

ځکه د یر عالم پکښې د هر ځای تماشے کوی

دا د سید و غوث به څه ... د اسلام جوړ شه

سوات ... به هر وطن کښې پلوشے کوی

هر رنګ طالبان پکښې د هر ... انجام جوړ شه

هر رنګ ملنګان پکښې به هر رنګے نشے کوی



هر رنګے غنچے ورپکښې هر رنګے بهار کړے

هر رنګے باغچه پکښې د هر ثمر بے قیاسه ده

هر رنګے هنر پکښې د چین او د ختن شته دے

هر رنګ نقاشیان پکښې قابل په امتحان شته دے

هر رنګے فیشن پکښې تیار د هر وطن شته دے

هر رنګ فیشن ساز یعنی تهیلو به هر مکان شته دے

دا د سوات د شاه د هر بنده شاه گفتن شته دے

دا سے د هر قسمه فن به سوات کښې قابلان شته دے

دا د سرداری د سوات صاحب دارومدار کړے

ځکه د بل به د سوات تیره خود د المسرده

خود به ترقی د غه د سوات نام عجیب کوی

مل چه ئے به نیکه خیل تاجور د هره با به دے

تل د سوات سلطان رائے دوستی د خوار غریب کوی

ده د عدالت خنجې ویستلے د نفا به دے

PUKHTO.NET

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم یې پرورش کړی هم یې غور دَ طبیب کوی
هم دے نیکوکار او نیک کردار دَ هر حسابه دے

دا سے نیکه برخه چه دَ قوم سره تاجدار کړے
برخه جهانګیری یې رسیدلے دَ والناسه ده

نامه یې ج او ه الف ن ز ی ب بهتره ده
فکر ورته اوکړه چرته عقل ورته خام نه کړے
جیم ه الف یو ځای او دَ نون بیله خانه غوره ده
ذ یوازے کور دے، ی ب یو ځای بد دِ فام نه کړے
دا جهان خائسته برخه یې نام کښې مقرره ده
نام که دَ حضور کوی رحم نو بے دوام نه کړے

دا دَ صفت باغ کښې نوکری چه کوم غمخوار کړے
خو ښه باغبانی دِ دلاور ته چپوراسه ده
هر سړی موندلے لویه برخه ستا دَ لاسه ده

---



## طرح ۲
## دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

---

تعلیم دَ عدالت عاقله ته اوکړه په سوات کښې
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

تعلیم که دَ انصاف کوے اول پرے امتحان کړه
داخل چه شوے اول په سوات کښې نوم یې لنډاکے دے
محصول دَ سوات حد دَ نسے آګاه نه ته خپل ځان کړه
تپوس دَ میلمنو دَ محصول دوی ته کار سپکے دے
په ورځ یبخه حکمه پرے دَ عدل شاهجهان کړه
اخلاق دَ بد فعلۍ په خوله کښې خوند تریخ شمکے دے

اخته که ځا حد کښې مسافر شه په پنجات کښې
برباد یو تروند حیا وی په حیا که دِ یقین شی
دروغ نه دی رښتیا دی په رښتیا که دِ یقین شی

درون چه میلمانه شي په مزه د سوات بهار ته
مالیان د حفاظت د پاره وي ورته موجود
پولیس حفاظتي دي تقسیم شوي هر دیار ته
چاقي د ستړي مشئ میلمنو له ورکړي سود
نوکر کوي منجره د خدمتونو خپل تاجدار ته
صاحب د نوکرانو نه جوړيږي د حیا بود

خوشحاله میلمانه شي د هر قسم په غم قات کښي
کاروانه ئي بې ریا دي په ریا که دِ یقین شي

روان چه میلمانه شي په مهم کښي د سلام
مطلب ئي په زړه داوي چه یو اوکړي ملاقات
منشیان کړي د صاحب ورته د هر کلي کلام
اے خوانه نوم دِ اووایه چه تیر نه شي اوقات
ولاړوي بقول منشیانو دے میلمنو ته لاس پنام
ترڅو چه میلمه نه کړي داخیل نوم هغه ته ذ بات



منشیان قول شریفان د حکمران دي بخپل ذات کښي
په جي قربان لګیا دي په لګیا که دِ یقین شي

نوم لیک چه مرزا ګان کړي زر عادل سلطان له ئي ورکړي
صاحب د باچې کار چه نوکر ته زر اوکړي آواز
فلانے میلمه تشریف دِ زر د ننه مقرر کړي
میلمه په ملاقات لګه د ګل کړي تن حنیر ا ز
حضور د هر کلي قول د خولے ورته هر کړي
مرشد غوندِ رازدار شي لکه پیر چه کړي نوک راز

احوال ورته بسکاره کړه دلاور په دے ابیات کښي
بنه واوره داوینا په دے وینا که دِ یقین شي
دروغ نه دي رښتیا دي رښتیا که دِ یقین شي

---

دلاور غمګین ډاګۍ سوات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دَ ناظرینو په خدمت کښې

خاصُ عوامو ته او بیا خاصکر تعلیم یا فته
او ادبي طبقې ته دا ښه معلومه ده چې څومره
په ریاست کښې تر دې حینه پورې دا سې
یو اَدبي شاهکار او دَ ترقئ او دَ عروج
په حقله دا سې یو مشاعِره نه وه شوې
دا اَوّله مرحله ده چې هرکله حضور
غازئ ملت والا همّت فرمانروای
سوات دام اقبالهٗ دَ ترقئ په بام باندې
کما ینبغي دَ سوات ریاست یو زلیدونکې
نښه اُوګرزوله، نو دَ ادبا، شاعرانو

PUKHTO.NET



په زړه کښې دَ خپل محبوب حکمران دَ محبت
جذبه را غله، او دَ دې خپل نیک محسن
دَ تحسین نه چپ نه شُو پاتې کیدې نو لهٰذا
څومره دَ ریاست ښاغلی محترم جناب
سیف الملوک صاحب صدّیقي
(تحصیلدار دفترِ حضور دام اقبالهٗ)
دَ ریاستِ سوات او غیره ادیبانو صاحبانو ته
دَ مشاعِرې پیغام ورکړه نو بنابران ښاغلو
شاعِرانو خپل خپل کلام دَ پاره دَ شایع کولو
صدّیقي صاحب ته را اُولیګه، اګرچه دَ بعضو شاعرانو
شعرونه دَ قافیو او دَ ردیف په لحاظ او دَ بحر په
توازن سره سمې نه خوري لیکن بیا هم صدّیقي صاحب دَ
هغوئ دَ جذبات قدر کوي او پخپله دَ ناظرینو کښې پیش کوي

تاسو دور

فضل الرحمٰن فیضان عفی عنه محرّر جناب مشیر ملک صاحب سوات

# دَ عقیدت ګلونه

راشه لږ اوګوره دا دَ عقیدت ګلونه
لکه بورا بویه وه دا دَ صداقت ګلونه
نن نئ ورځ دَ تاجپوشۍ چه دَ والی صاحب ده
شو په پیشکش کښې ورته دا دَ حقیقت ګلونه
نن ادیبانو شاعرانو په اخلاص او خلوص
حضور ته پیش کړه په دې ورځ دَ محبت ګلونه
هر یو شاعر اظهار دَ ډیرې خوشحالۍ کړے دے
غازی ملت ته ئې دالۍ کړه دَ عبرت ګلونه
وائی حبیب چه مونږ به نه یو دا یادګار به وی تل
تل به باقی وی دا همونږه دَ خدمت ګلونه

ښاغلے جناب حبیب الرحمن صاحب حبیب کالوچ

---

بکتابت فضل الرحمن فیضان سواتی عفی عنهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مظلوم ورته خندېږي او ظالم کوي فریاد
د زړهٔ په وینو تـکی دا زمـا قـلم لیکی

سیف الملوك صدیقی



# زهٔ انتظار کوٌمه ستا د سترګو

زهٔ انتظار کوٌمه ستا د سترګو

سیف الملوك صدیقی

جان کتاب کور
JAN0345K951961KS



زهٔ انتظار کوٌمه ستا د سترګو
ولې پناه شوې ته زما د سترګو

چې په ګلونو د دنیا کرم نظر
مثال مې نشته د اشنا د سترګو
که په سلګو یمه یواځې ته یم
اوښکې بهیږی د هر چا د سترګو
څومره ښائست چې ستا په سترګو کښې وو
نشته نرګس او د لالا د سترګو
هر چا ته ګورمه دنیا لټوم
نشته هغه چرته خندا د سترګو

صدیقیؔ خوښ دے په خلوت د دنیا
چرته به پټ شی د دنیا د سترګو

جان کتاب کور
JAN0345K951961KS

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**